# د ریاض په ښار کښې

# د باچا خان او خان عبدالولي خان د تلینونو دستوره

بهرام اوډیګرام

په نهۀ ویشتمه جنوری ۲۰۰۹ د اې این پي د سپوري لاندې د فخر افغان باچا خان او د پښتنو ملي رهبر خان عبدالولي خان کلیزه د سعودي عرب په ښار ریاض کښې ډېر په ادب او احترام سره ونمانځلې شوه چې پکښې په ګڼ شمېر کښې پښتنو ګډون وکړو.

دستوره د کلام پاک د تلاوت نه شروع شوه، د سټېج سکرټري فرائض د اې این پي ریاض ستر سکتر سبزعلي خان په غاړه اخستي وو. د جدې ښار سابقه صدر سربلند خان او د دمام نه روح الامین نایاب صېب او نورو ښارونو نه هم ملګرو دې غونډې ته ښکلا بخښلې وه. په شروع کښې د اې این پي ریاض صدر ګل زمین خان د پاکستان نه په ټیلي فون خطاب وکړو او راغلو مېلمنو ته ئې هرکلےووې او د باچا خان په جدوجهد ئې رڼا واچوله.

تقریب ته په خطاب کښې انعام خان سواتي د باچا خان تعلیمي خدمات د حاضرینو د وړاندې پېش کړل.

بابر شاه هم د باچا خان په خدماتو رڼا واچوله. وروستو بهرام اوډیګرام هم د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه خبرې وکړې، محمود غرځني هم باچا خان ته د عقیدت پېرزونې وړاندې کړې، نثار علي خان سواتي هم د پښتنو په تاریخ رڼا واچوله. روح الامین نایاب صېب او محمد جمیل خان د باچا خان سره د هغه ملاقاتونو ذکر وکړو، کوم چې د هغوي سره په ولي باغ کښې او په ایل، آر، ایچ کښې شوي وو چې په اورېدو سره ئې د پنډال ملګري جذباتي هم شول او آبدیده هم. د جدې نه راغلي مېلمه سربلند خان هم په موجوده حالاتو خبرې وکړې. په ریاض ښار کښې د ادبي تنظیمونو مشرانو او ملګرو هم ګډون وکړو. د پښتو ادبي غورځنګ، پښتو ادبي مشال، پښتنائۀ ادبي ملګري، پښتو ادبي تړون شاعرانو هم باچا خان او خان عبدالولي خان ته د عقیدت پېرزوینې د شعر په ژبه وړاندې کړې، لکه فقیر شهزاد ، عمرزاده افغان ، علي اکبر خان، معظم د زکوړي په تقریب کښې شریک د پاکستان ایمبېسي سکول ماشومانو، زاهد خان، حسام خان او بابرشاه سره د ملګرو د پښتنو ملي ترانه "اې زما وطنه د لالونو خزانې زما" وړاندې کړه چې په اورېدلو سره ئې د پنډال شریک ټول ملګري احتراماً ولاړ وو. په اخر کښې د اې این پي ریاض قائم مقام صدر ظهور احمد خان د راغلو مېلمنو مننه وکړه او پښتنو ته ئې دا پېغام ورکړو چې دا سخت حالات عارضي دي، انشاءالله آئنده وخت د پښتنو د امن خوشحالۍ او سوکالۍ دے.

# چمن بلوچستان کښې

# د باچا خان او خان عبدالولي خان تلینونه

رپورټ: محبت کاکا ممبر صوبائي مجلس عامله اې این پي

د عوامي نېشنل پارټۍ چمن له اړخه د فخر افغان باچا خان او خان عبدالولي خان د تلین په مناسبت په ۸ فروري په میونسپل کمېټۍ هال کښې د "امن" تر عنوان لاندې یو سیمینار وشو، دې سیمینار ته د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي سینئیر نائب صدر اصغر خان اڅکزي، لالا خان مسے زئي، ټاؤن ناظم جلال الدین خان اڅکزي، د اې این پي مرکزي کمېټۍ غړي ملک عثمان اڅکزي، د صوبائي کمېټۍ ممبر محبت کاکا، ګل اڅکزي، عبدالرحمان رودي، حاجي کرم خان پشتون، ګل باران افغان، خدائے نظر، نور احمد فطرت، نقیب الله او داود خان وېناوې وکړې.

مقررینو ووئیل چې زمونږ ملي اتلانو د خپل سیاسي نظر له وجې د نن څخه ۸۰ کاله د مخه د "امن" په ضرورت چې کوم زور ورکړے ؤ، نن دا نۀ صرف د پاکستان، هندوستان او افغانستان ضرورت ګرځېدلے دے، بلکې نن ټوله دنیا د امن په لټون کښې ده. فخر افغان چې د یوې ډېرې درنې کورنۍ سره تعلق لرلو او د اووه پُشت څخه خان ؤ، هغوي ته د ژوند هغه ټولې اسانتیاوې حاصلې وې، لېکن هغۀ دا ټول په یوه داسې لاره بدل کړل چې په هغه لاره کښې مات سر، لُوڅې پښې، ماتې پُښتۍ، وهل ټکول، جائداد ضبطول، د قېدو بند تورو تمبو ته رسول وو. اوس سوال دا دے چې هغۀ دا ټول ولې وکړل؟ د هغۀ مقصد څۀ ؤ؟ هغه څۀ وو؟ چې باچا خان لیدل او محسوس کول ئې؟ باچا خان چې پښتون قام ئې د یو سیال قام په حېث غوښتو او هغۀ ئې د نړۍ د سیالو قومونو په صف کښې د ودرولو سوګند کړے ؤ، نو هغۀ خپل منزل او مقصد وټاکو، هغۀ د ټولو د مخه پښتون قام ته د علم او هنر درس ورکړو. د آزادو مدرسو په نوم ئې سکولونه پرانستل او په خپله ئې عملي جدوجهد شروع کړو او پښتنو ته ئې د ورورولۍ او عدم تشدد په لار د روانېدو درس ورکړو، ګر چې دا دواړه کاره ډېر سخت او مشکل





وو خو د باچا خان عزم او اراده ډېره مضبوطه او کلکه وه، په هغې لاره کښې هغهٔ او د هغهٔ ملګرو ډېر زيات محنت وکړو او دا رنګه ئې د خدائي خدمتګار تحريک بنياد کېښود او يو ډېر لوئے او منظم تنظيم ئې جوړ کړو او کور په کور کلي په کلي وګرځېد او پښتنو ته ئې د يووالي، ورورولۍ، علم دوستۍ درس ورکړو او هغوي ئې د تربګنۍ، دشمنۍ، بېکاره رواجونو او دودونو څخه راوګرځول. د باچا خان دغه اصلاحي پروګرام نه چې انګرېز سرکار خبر شو نو هغوي د دهٔ د دغې ارادې او پروګرام څخه ويره محسوسه کړه او د هغهٔ په لاره کښې ئې د خنډ پېدا کولو فېصله وکړه او بيا هغه څهٔ شروع شو چې هم د تاريخ حصه ده.

دوي زياته کړه چې د باچاخان د جدوجهد په نتيجه کښې آزادي راغله خو زمونږ د ملک حکمرانانو د باچا خان په مشورو عمل ونهٔ کړو او ملک د ډېرو اوږدو مشکلاتو ښکار شو چې ترننه پورې ئې مونږ وينو.

نن چې يوې خوا ته زمونږ سياست د ټولې نړۍ ضرورت ګرځېدلے خو بلې خوا ته د دې سياست ضد قوتونه هم ډېرې زياتې هلې ځلې کوي، څکه چې کهٔ تهٔ پرمختګ کوي نو دښمن دې هم د ودربدو کوششونه کوي، دا نن زمونږ د سياست فتح ده، دا نن د باچا خان هغه منزل ته رسېدهٔ دي. دا نن د هغه شهيدانو د ارمان پوره کېدل دي، دا کومو حالاتو سره چې زمونږ خاوره مخامخ ده، دا نن چې زمونږ د وطن خاوره د کوم طوفان سره مخامخ ده او کوم عمليات په کښې روان دي، دا ساده خبره نهٔ ده، بلکې کهٔ په تاريخ نظر واچوو نو کوم قومونه چې منزل ته رسي هغوي به د داسې حالاتو سره مخامخ کېږي. نن چې دا زمونږ په وطن زمونږ نهٔ ليدونکو دښمنانو کوم اور بل کړے دے، دا د هغوي هغه اخري چارې دي هغوي نن خپل شکست وينې او زمونږ تر مېنځ دا د هغوي زوال دے.

دوي زياته کړه چې د پښتنو په خاوره چې دا د "طالب" په نامه کوم جنګ شروع دے، دا طالبان نهٔ دي، بلکه دا نوم د پښتنو د بدنامولو دپاره مخ ته راوړل شوے دے. ولې کهٔ چرې مونږ وګورو نو په ټوله اسلامي نړۍ کښې چې امام، ملا او طالب ته کوم مقام د پښتنو ټولنې ورکړے دے، دا هېچا نهٔ دے ورکړے، کهٔ عرب دي، کهٔ ترکيان، کهٔ پنجابيان او بنګاليان او کهٔ سندهيان او کهٔ نور. دا خو يواځې پښتنه ټولنه ده چې هغوي پېش امام، ملا او طالب د خپل وجود حصه ګڼلې ده. نن دا صرف زمونږ هغه اقدارو ته ضرر رسولو دپاره په دغه نامه دا لوبه روانه شوې ده. لېکن پښتون قام خپل هغه دښمنان ډېر ښهٔ پېژني چې د دېوال شاته ولاړ دي او هغه د سائل صېب خبره ده چې:



ما په ما وژني کافر هنر دے
دلته هم زۀ مرم هلته هم زۀ مرم

دوي زياته کړه چې نن هم د باچا خان فکرونه، فلسفه نۀ صرف ژوندی ده بلکې نن خو ټوله دنيا د دې فلسفې ضرورت محسوسوي او دا چې نن زمونږ دښمنانو په مونږ کوم تورونه پورې کوي چې پښتانۀ دهشت ګرد دي، غېر مهذب خلق دي، تشدد پسند دي نو د باچا خان په جدوجهد جوړ کړل شوي فلم "د امن مشال" به نن څنګه زمونږ دښمنان ردوي. نن خو کېښېدا، هندوستان او يورپ د پښتنو تهذيب سره اشنا کېږي او د عدم تشدد د شېدايان منل کېږي او دا د باچا خان د جدوجهد برکت دے چې نن دنيا پښتون د سيال او مهذب قام په حېث وپېژندو. نن په ملک کښې د جمهوريت، جمهوري ادارو د استحکام دپاره حکمرانانو ته زمونږ ضرورت زيات شوے دے، نن د دې ملک په تور او سپين مونږ خبر يو او چې څۀ کېږي نو د باچا خان د دې سرې جنډې سره به خبرې کېږي او زمونږ نه بغېر په دې ملک کښې نور څوک دا چېلنجز مقابله نۀ شي کولے او دا زمونږ د سياست فتح ده چې نن د ملک په اېوانونو کښې د "پښتونخوا" په نامه مونږ يادېږو او انشاءالله زمونږ رهبري به پښتنو له دا نوم ضرور راوړي.

دوي زياته کړه چې کۀ نن کوم څيز زمونږ سره نشته، هغه د عمل کموالے دے، ولې باچا خان چې به څۀ وئيل هغه ئې کول، نن مونږ ګرچه په تعداد کښې ډېر شوي يُو، ذرائع آمد و رفت، مېډيا او دنيا ټوله د يوه کلي په شان ګرځېدلې ده خو بيا هم مونږ هغه څۀ نۀ دي کړي چې کوم پکار دي. باچا خان په يوه منظم تنظيم ډېر زور اچوي. نن په مونږ کښې د تنظيم کمزورياني شته، نن مونږ بايد عهد وکړو چې مونږ به د باچا خان او ولي خان د ارمانونو پوره کولو دپاره ډېر زيات عمل کوو او خپلو کښې به رابطې مضبوطوو او خپل تنظيم به نور فعالوو نو هېڅ وجه به نۀ وي چې مونږ خپل مقصد ته ونۀ رسوو.



ملګرو پام کړئ وارخطا چې نۀ شئ
د خپل منزل څخه پر شا چې نۀ شئ
تياري ختمېږي اوس رڼا راخېژي
پر لويو غرو د پښتونخوا راخېژي

# په کراچۍ کښې د باچا خان د شوې کليزې

## رپورټ

اصغر خان اچکزے

د فروری په پينځلسمه نېټه د عوامي نېشنل پارټۍ صوبه سندهـ د سپوري لاندې د کراچۍ په بلديه ټاؤن ګراؤنډ کښې د فخر افغان باچا خان يويشتمه او د رهبر تحريک خان عبدالولي خان دريمه کليزه په ډېر درناوي ونمانځلې شوه. په دې غونډه کښې د عوامي نېشنل پارټۍ سندهـ صدر او د پښتون ايکشن کميټۍ (لويه جرګه) چئيرمېن شاهي سېد ، صوبائي جنرل سېکرټري امين خټک ، د بلوچستان صوبائي سينئير نائب صدر اصغر خان اچکزي، مشهور سماجي رهنما عبدالستار ايدهي، صوبائي وزير امير نواب، رانا ګل اپريدي او نورو ګڼو خلقو ګډون وکړو. مقررينو د باچا خان او عبدالولي خان قامي مبارزه په ښو ټکو کښې وستائيله. دوي پښتنو ته اپيل وکړو چې هغوي د عدم تشدد وسله راواخلي او پښتون افغان وطن د تشدد ، جنګ جګړې او کرکې نه پاک کړي او د امن، ورورولۍ، سوکالۍ او ترقۍ په لور ئې روان کړي. دې مشرانو ووې چې د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې چې نن ځومره ضرورت دے دومره مخکښې چرته نۀ وۀ. نن د پښتنو په وطن اور بلېږي هرې خوا ته وينې توئېږي. سياسي مشران، عالمان او عام خلق امروزه قتلولے شي. د پښتونخوا بنيادي سټرکچر لګيا دے تباه کولے شي او زمونږ معاشره د انارکي په لور بوتللے شي. په دې حالاتو کښې دا د ټولو پښتنو ذمه واري جوړېږي چې مونږ ټول يو شو او دا سازشونه کاميابېدو ته پرې نۀ ږدو. دوي ووې چې کۀ په نورو سيمو کښې د پښتنو وينې د اسلام په مقدس نوم بهيولې شي نو په کراچۍ کښې ولې پښتانۀ قتلولے شي. اصلي مسئله د اسلام نۀ ده دا د پښتنو د بې شېمره وسائلو د هغوي نه د ترورلو هڅه ده او د دې غرض د پاره د پښتنو په سيمه يو اور لګولے شوے دے. مونږ به په هر قيمت د دې مقابله کوو. مونږ به پښتنو له خپل حقونه ګټو. دوي ووې چې باچا خان او رهبر تحريک ولي خان ته د عقيدت وړاندې کولو ښه طريقه دا ده چې مونږ ټول د هغوي په لاره روان شو ،



ټول يو موټي او يوه خُلۀ شو او خپل وطن او خپلې خاورې د پاره د هيڅ قسمه قربانۍ نه غاړه ونۀ غړوو.